ماهنامه
حراء
Monthly
Hera
میاشتنی
ماهنامۀ تربیتی، علمی و دینی

سه شنبه د ۱۳۹۹ د قوس ۴مه، د ربیع الثاني ۹مه، د ۲۰۲۰م د نومبر ۲۴مه — دوه یم کال لومړی ګڼه

HAIAN FOUNDATION
Registered Charity
in the UK
Reg No: 1145407

## آیا ما دچار عذاب هستیم؟

ابن قیم جوزی رحمه الله در کتاب (صیدالخاطر) میگوید: یکی از دانشمندان بنی اسرائیل گفت: پروردگارم! چقدر نافرمانیت را نمودم ولی مرا مهلت دادی و تعذیبم نکردی!! الله متعال به پیامبر بنی اسرائیل وحی نمود و برایش امر نمود که به آن دانشمند بگوید: ویرا بگونۀ مجازات کرده ام که سنگین تر از آن یافت نمیشود ولی وی به آن پی نمی برد! آیا حلاوت مناجات و لذت عبادتم را از وی نگرفتم؟!

## سرمقاله

### موبایل مي واخله ما مه وژنه!

د هېواد په څلور لسیزه جګړه کی سربیره پر دېی چی ودانیز بنسټونه له منځه ولاړل تر ټولو لوی ضرر یې په معنوی اړخ کی پاتی شو، چې طویل المدت منفی اغیز یې خورا تشویشناک دی ، د یادونې وړ ده چې ودانۍ به ورغول شي خو د معنوي ارزښتونو رغول ډیر وخت ته اړتیا لري په افغاني ټولنه کې ددغو ارزښتونو څخه مهم یې ټولنیز آداب او یو د بل مال او ناموس ته احترام دی، د څلویښت کلنې جګړې په دغه ټولنیز ناورین کې د بهرني کلتوري یرغل، د حکومتونو ادلون او بدلون او د خلکو په اقتصادي حالاتو کې چټک تغیر د ډیرو خلکو عادتونه خراب او نفسونه مردار کړل. د ۲۰۰۱ کال د لوی تحول څخه وروسته چې کله د کرزي حکومت واک ته ورسېد د نړۍ له مختلفو برخو څخه بې حسابه پیسې افغانستان ته راغلې، چې په پایله کې یې د ډیرې خلکو د ژوند په بیلابیلو اړخونو کې ظاهراً مثبت بدلون راغی ، د ځینو عام المنفعه بنسټونو د رغیدا ترڅنګ د خلکو په شخصي ژوندانه یې ښکاره تاثیر وکړ، ډیری ځوانان په مختلفو جهتونو کی په کارونو وګمارل شول، ډیر خلک د شتمنیو خاوندان شول، دهېواد په ګوټ ګوټ کې څو پوړیځې ودانۍ جوړې شوې، په ځانګړي ډول د هیواد پلازمینه کابل د وادنیو جوړولو د سیالیو په میدان بدل شو ، هر چا غوښتل چې له خپل سیال نه ښه ودانۍ جوړه کړي، خو د مال راټولولو په دې سیالۍ کی ځینو ډیر څه له لاسه ورکړل چی هغه په اسانه بیرته لاس ته نشي راتلی، نن چې په یو هېواد کې چی ۹۹٪ وګړي یې مسلمانان دي د خپل سر او مال د ساتنې له وېرې فرض لمونځ په جومات کې نشي کولی ، یو وطنوال خپل عادي ژوند په مطمئنه توګه مخ په وړاندې نشي بیولای، د یو عادي ګرځنده ټلیفون په خاطر یو ځوان خپل ژوند له لاسه ورکوي تر دې حده چې خلک د خپل روزمره ضروریاتو د رانیولو لپاره بازار ته د تلو زړه نه ښه کوي، په تعلیمي مراکزو هم د بی امنۍ خپسه ناسته ده او د سختې وېرې او ترهې سره شاګردان د خپل راتلونکي په فکر تدریسي چاپیریال ته ننوځي.
که ددې وروستیو ناخوالو د حل لاره ولټوو هغه د قانون د تطبیق له لارې چې د اسلامی ارزښتونو څخه سرچینه اخلي د فساد څخه د یوې پاکې ټولنې په رامنځته کېدو کې ده، دغه راز په فردي کچه په اسلام کې کورنۍ د ټولنې د اصلاح لومړنی بنسټ دی او د یوې مسلماني کورنۍ جوړول د هر مسلمان دنده ده، کله چې کورنۍ تربیه سالمه وي او افرادو ته یې ددې ښودنه شوي وي چې په ټولنه کې یو مسلمان باید د بل مسلمان سره څه ډول تعامل وکړي او څنګه یو شخص ټولنې ته د خیر رسولو مفکوره د ځانه سره ولرې، بلکې د ایثار او د خپل ځان په منفعت باندې د ټولنې منفعت ته ترجیح ورکړي، او اقلا له مسلمانانو څخه د خپل ضرر او اذیت رسولو مخه بنده کړي، د نورو خلکو خیر غوښتنه خپل هدف وګرځوي، په داسې یوه ټولنه کې ټول غړي په سکون او ارام کې ژوند کوي او د هیچا سره دا سوچ نه پیدا کیږي چې د بل په حق خیټه واچوي.
زمونږ خوږ او سپیڅلي دین ډیر لوړ اجتماعی ارزښتونه لري، چه په عملي کولو سره یې ټولنه د دنیا د ژوندانه سکون او اطمینان حاصلولی شي او په اخرت کی د تل پاتی کامیابۍ او سرلوړی ضامن دی.




# ملتپالنه (نشنلیزم) ښه او که بده؟

صفحه ۳



## زن مسلمان، ملکه است!

مخ ۲



## بعد از غذا خوردن پیاده‌روی کنیم یا نه؟

صفحه ۳



## د بل سپکاوی مه غواړه مسلمانه!

صفحه ۲




## PILLARS OF IMAN (5):
## BELIEF IN PREDESTINATION

page 6



## Will Allaah Forgive Me?

page 7

# زن مسلمان، ملکه است!

ترجمه: ابراهيم کياني درميان

همسايه‌ي ما، پيرزني بود كه بيش از هفتاد سال عمر داشت. با ديدنش، به انسان، شفقت و دلسوزي دست مي‌داد. آن زن، در حالي به خانه‌اش رفت و آمد مي‌كرد كه بي‌كس و كار بود و كسي نداشت كه به او كمك كند؛ خودش، غذا مي‌خريد و لباس تهيه مي‌كرد؛ خانه‌ي آرامي داشت كه كسي جز خودش در آن نبود و كسي هم درب خانه‌اش را نمي‌زد.

در يكي از روزها بنا بر وظيفه‌ي اسلامي خود كه بايد از همسايگان سر زد، به سراغش رفتم و درب خانه‌اش را زدم. با آن‌كه من، كار خاصي نكردم، اما پيرزن، خيلي ترسيد؛ چرا كه او در جامعه‌اي زيسته و پرورش يافته بود كه هيچ خوبي و خيري، در آن نيست و به مهرورزي و دلسوزي، هيچ شناختي ندارد. جامعه‌اي كه در آن بيشترين و بهترين رابطه‌ي همسايگي، گفتن اتفاقي صبح بخير يا عصر بخير است!.

پيرزن، روز بعد با مقداري شيريني كه براي بچه‌ها آورده بود، به خانه‌ي ما آمد و كارت تقديري به ما داد كه بر روي آن به‌خاطر آنچه كه به او داده بوديم، قدرداني و تشكر كرده بود. چنانچه اين كار، عادت عموم مردم انگليس در مناسبت‌ها و مراسم است.

من، از آن پيزن خواستم تا گاهي به ديدن همسرم بيايد. او نيز هر از چند گاهي به ديدن همسرم مي‌آمد. وي، پس از مدتي رفت و آمد به خانه‌ي ما، متوجه شد كه در جوامع ما، مرد، در قبال خانه و خانواده‌اش مسؤول مي‌باشد؛ به‌خاطر آن‌ها كار مي‌كند و براي آنان، غذا و لباس مي‌خرد. هم‌چنين دريافت كه مسلمانان، به جنس زن اعم از دختر، همسر و يا مادر احترام زيادي مي‌گذارند. اين احترام، بويژه در زماني كه سني از زن مي‌گذرد، افزايش مي‌يابد؛ به‌گونه‌اي كه هر يك از فرزندانش، مي‌كوشد تا بيشترين خدمت را به او انجام دهد. پيرزن، دانست كه در جامعه‌ي ما، هر كسي كه در خدمت به پدر و مادرش و توجه به آن‌ها كوتاهي نمايد، از چشم مردم مي‌افتد و همه، از او بيزار مي‌شوند.

بدين‌سان پيرزن، از مجموعه‌ي رفتارهاي خانواده‌ي مسلمان آگاهي يافت و فهميد كه در خانه‌ي مسلمان، رفتار پدر با فرزندان چگونه است؟ گويي به چشم خود مشاهده كرد كه فرزندان، هنگام ورود پدر به خانه، به دورش مي‌گردند؛ زن، تمام توانايي‌اش را در خدمت به شوهرش بكار مي‌گيرد. آري! آن زن از چگونگي تعامل و منش اعضاي خانواده‌ي مسلمان با يكديگر آگاهي يافت و از اين‌رو حالات خودش را با اوضاعي كه ما مسلمانان داريم، مقايسه كرد. او، مي‌دانست كه فرزندان و نوه‌هايي دارد، اما خبر نداشت كه آن‌ها كجا هستند؟! هيچ يك از آنان به ديدنش نمي‌آمد! شايد تعجب كنيد، اما اين، يك واقعيت است كه در غرب امكان دارد اين پيرزن (يا پيرمرد و پيرزني هم‌چون او) بميرد، دفن شود و يا بسوزد و هيچ يك از فرزندانش، خبر هم نشوند!! خانه‌اي كه آن پيرزن داشت، نتيجه‌ي كار و دست‌رنج خودش در طول عمرش بود. آن پيرزن، براي همسرم از مشكلات و سختي‌هاي فراروي زن غربي در محيط كار يا خريد نيازمندي‌هاي خانه سخن مي‌گفت تا اين‌كه سخنش به اين‌جا انجاميد كه: واقعا زن، در جامعه‌ي شما، مثل يك ملكه است و اگر دير نشده بود، با مردي همانند شوهر تو ازدواج مي‌كردم و هم‌چون شما زندگي مي‌نمودم.

كسي كه براي درس يا كار به غرب رفته، چنين نشانه‌هايي را به وضوح مشاهده كرده است.

با اين حال متأسفانه در جامعه‌ي ما، برخي از خودباختگان فرهنگ غرب، از تقليد كوركورانه‌ي زندگي غربي، شرم نمي‌كنند و با شگفت و تعجب تمام هم‌چنان برخي از مجله‌ها و نشريات كشورهاي اسلامي، از لباس زن غربي، كار زن غربي و پوشش غربي و آزادي‌اي سخن مي‌گويند كه زن غربي، در سايه‌ي آن زندگي مي‌كند!.

بار خدايا! تو را سپاس كه به نعمت اسلام بر ما، منت گذاشتي.

(يمنون عليک ان اسلموا قل لا تمنو على اسلامكم بل الله يمن عليكم ان هداكم للايمان ان كنتم صادقين) يعني: «آنان، بر تو منت مي‌گذارند كه اسلام آورده‌اند. بگو: با اسلام خود بر من منت مگذاريد؛ بلكه خدا، بر شما منت مي‌نهد كه شما را به سوي ايمان هدايت كرده است اگر در ادعاي ايمان راست و درست هستيد».

# د بل سپکاوی مه غواړه مسلمانه!

محمد وقايت الله وقار

د اسلام دين د انساني كرامت، شرافت او درنښت ساتندوی دی، په همدې بنسټ چې انسان پر خپل ستر مقام ټيكاو من شي، نو ټولې هغه كړنې او ويناوې چې انساني كرامت تر پوښتنې لاندې راولي، زمونږ دين ناروا گرځولي دي.

هر انسان دا نه خوښوي، چې د هغه سپكه وشي، څوک يې ورټې او وېې ښكنځي، خو ډېر وگړي بيا دا معادله يوازې د ځان په اړه مني او د نورو په اړه ورته په كوم خاص ارزښت نه گوري، هغوی ته هغه ناسته بې خونده ښكاري، پكې تنگيږي او بدې يې ايسي، په كومه كې چې مسلمان سپک نه شي. ډېر تأسف په هغه چا پكار دی، چې پدې ستره گناه كې يې پوره شهرت گټلی وي، دومره شهرت چې ته به وا دا يې د ژوند اصلي موخه ده. دا پداسې حال كې ده، چې قرآن كريم لا ډېر وړاندې مونږ لدې تباه كوونكې ناروغۍ ويرولي يو او په څرگنده توگه يې مؤمنان په يوبل پسې له ملنډو څخه منع كړي دي. د حجرات سورت يوولسم ايت ژباړه پدې ډول ده: اې د ايمان خاوندانو، ستاسو يو قوم دې په بل قوم پسې ملنډې نه وهي، كېداى شي، هغوی له دوی څخه غوره وي او ښځې دې هم په نورو ښځو پورې نه خاندي، شايد هغوی له دوی څخه غوره وي... .

د يو بل سپكه هغه ټولنيزه ناروغي ده، چې د كورنيو، ټولنو او ولسونو د غښتلتيا او پياوړتيا ريښې له وېخه باسي، د مسلمانې كورنۍ او ټولنې ځانگړنه بايد داوي، چې هلته د هر چا درنښت او عزت خوندي وي، دا حالت د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د درنو ملگرو رضي الله عنهم او په ټوله كې د سلف صالحو رحمهم الله په ژوند كې حاكم ؤ، هلته د يو بل څخه ځاريدنه او يو بل ته د پوره درناوي ښكارونه دود وه، له همدې كبله د هغوی په زړونو كې د خپلو مسلمانو وروڼو مينه؛ هغه مينه چې يوازې د الله تعالى د رضا په خاطر وه. لكه د غره په څېر پرته وه.

اسلام نېغ په نېغه د مسلمان د سپكاوي د منعې سربېره هغه لارې چارې، كړنې او ويناوې هم حرامې كړي دي، د كومو څخه چې د مسلمان وگړي سپكاوي زيږيږي. يو بل ته په بدو نومونو خطاب، د يو بل په عيبونوپسې كېدل او دهغې بيانول او نور... په همدې اساس منع شوي دي.

همدا راز له حضرت أبوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې د انسانيت ناجې او د رحمت استازي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بحسب امريء من الشر أن يحقر أخاه المسلم. رواه مسلم.

د يوه كس لپاره همدومره شر بس دی، چې خپل مسلمان ورور سپک وگڼي.

گرانه وروره او درنې خورې، دا حديث شريف يو ځل بيا ولوله او پوره غور پكې وكړه. د مسلمان لپاره د شر د بس والي حد همدا دی! يوازې همدا؟ هو، يوازې همدا ! څومره لويه گناه ده او څومره ستره سزا ؟د زنا، غلا او نورو سترو گناهونو په اړه داسې ونه ويل شول، يوازې د مسلمان سپكه د دومره سخت تعبير جوگه شوه، ولې؟ دا ځكه چې د مسلمان سپكه د ډېرو ناورينونو، غمونو او بې شمېره ستونزو كيلي ده... .

هو، هغه څوک چې مسلمان سپک گڼي او يا ورته په سپک نظر گوري، همدا كار يې د ناوړه او خرابې پايلې لپاره بس دی. د مسلمان سپكه په حقيقت كې د اسلامي ټولنې د بنسټونو ړنگول دي او مسلمان وگړي د كركې، نفرت او دښمنۍ پر ټغر كښېنول دي، لدې كبله ترې ځان ساتل زما او ستا دنده ده.

# ملتپالنه (نشنلیزم) ښه او که بده؟

احسان الله الموسوي

نشنلیزم د ملتپالنې په معنی ده او دد ې اصطلاح اصلي موخه او معنی د یو ملت د ګټو او موخو لپاره راولاړېدل په ځانګړي ډول د نورو ملتونو په مقابل کې او د خپل ملت پورته والی او غوره والی په نورو ملتونو باندې دی، چې دا غوره والی بیا د افراط ترکچې رسېږي او د څه مودې وروسته د ژبني، سمتي، قومي، هېوادني تعصب سبب ګرځي او یؤ ملت په تدریجي ډؤل تجزیه کوي او لهٔ منځه یې وړي.

معاصره د ملتپالنې نظریه (نشنلیزم) یوه مردوده ناکامه، نا معقوله، غیر منطقي او د اسلام خلاف نظریه ده، ځکه چې د تاریخ په مختلفو دورو کې یې تل د تجزیې رول لوبولی دی اوملتونو ته یې سترمالي او ځاني زیانونه رسولي دي.

تاریخي پس منظر: په اصل کې خو نشنلیزم په یوډول نه یو ډول له پخوا څخه په خلکو کې موجود وو، چې ځیني علما یې د ادام علیه السلام او شیطان له وختـه را پیلوي. او لکه څرنګه چې په سیرت النبي او اسلامي تاریخ کې یې یادونه شوې د اسلام نه مخکې د جاهلیت په دور کې تعصب او قومپالنه خپل اوج ته رسېدلې وه، چې د اسلام له راتګ سره تعصب حرام وګڼل شو او رسول الله ﷺ مسلمانان له تعصب، غرور، یو پر بل لوړوالي څخه منع کړل.

خو د معاصر نشنلیزم په اړه تاریخ لیکونکي لیکي چې د نشنلیزم نظریه د لومړي ځل لپاره په ۱۷ یا ۱۸ پېړۍ کې رامنځته شوه، او ځینې بیا لیکي چې په اصل کې د فرانسې د انقلاب نه وروسته د ۱۸ پېړۍ په نیمایي کې د نشنلیزم اساس په رسمي ډول سره کېښودل شو، چې نه یوازې د فرانسې بلکې د جرمنیانو، ایټالویانو او په ټولې اروپا د اغیزې وحدت او ملت جوړونې لپاره دا نظریه رامنځته شوه.

د نشنلیزم نظریه په لومړیو کې د مطرحو شخصیتونو، لیکوالانو او دولتونو لخوا ډېره تقویه شوه په ځانګړي ډول د برېتانیا لخوا څخه، چې دا نظریه تر ۱۹ پېړۍ پورې ډېره رایجه شوه او خلکو ومنله، چې په نتیجه کې یې اروپایي هیوادونو په ځانګړي ډول المان او ایټالیا ته وحدت وروبانښه او په تاریخ کې خورا مهم سیاسي او ټولنیز ځواک وګرځېد.

یوه پېړۍ لا تېره نه وه چې د نشنلیزم اصلیت را برسېره شو او د لومړۍ او دوهمې نړیوالې جګړې سبب وګرځېد، تاریخ پوه جان هورن John Horne))
او ځینې نور تاریخ لیکونکي لیکي چې د لومړۍ نړیوالې جګړې اصلي لامل همدا نشنلیزم وو چې د میلیونهاوو انسانانو د وژنې سبب وګرځېد.

همدارنګه کله چې دا مردوده نظریه د اسلامي تمدن دښمنانو اسلامي نړۍ ته را انتقال کړه، په مسلمانانو کې یې هم خپل زهر وشیندل او د عثماني خلافت د ړنګېدو لامل وګرځېده، ځکه چې عثماني خلافت له مختلفو ملتونو جوړ وو او د نشلنیزم مردودې مفکورې په خلکو کې غرور او په نورو د غوره والی فکر را پیدا کړ او په همدې اساس خلک بغاوت ته وهڅول شول ځانځاني او تفرقه یې رامنځته کړه او خلافت یې له منځه یوړ.

همدارنګه د هاسبورګ (د هسپانیې امپراطوري) هم د نشنلیزم له وجې لمنځه لاړه.

ددې بدبختیو او ناکامیو څخه د درس اخیستنې او تجربې په نتیجه کې اوس لومړۍ درجه هېوادونه پهٔ دې هڅه کې دي، چې څنګه دا نظریه لهٔ منځه یوسي او مولټي کلچریزم رامنځته کړي. ځکه نشنلزم ولسونه تجزیه کوي او همداسې تدریجي مزل کوي ان تر دې چې خبره یې انفرادیت ته رسېږي. هغه په دې معنی چې په نشنلیزم کې لومړیتوب ملت ته ورکول کېږي او هر کس خپل ملت په نورو ملتونو غوره ګڼي، بیا ورپسې خپله ژبه تر نورو غوره ګڼي همداسې خپل قوم بهتره بولي او په هر وخت، حق او ناحق، سم او ناسم حالت کې ورڅخه دفاع کوي، په همدې ترتیب خبره خپل کلي او خپلې کورنۍ ته رسېږي او په پای کې ځان تر نور انسانانو غؤره بولي او نورو ته پهٔ ټیټه سترګه ګوري، دلته ده چې ملت ټوټې ټوټې کېږي او د ځانځانی پهٔ اور کې سؤځي او په نتیجه کې یې وژنې، وراني او تباهي رامنځته کېږي.

همداسې که موږ د اسلامي نړۍ اوسني حالت ته وګورو نو د همدې را واردې شوې هدفي نظریې لهٔ کبله په بد وضعیت کې قرار لري. د ډیورنډ کرښه، د کشمیر مسئله، یو اسلامي هېواد بل ته لاس نه ورکول، یو دبل پښې وهل، د خپل مسلمان ورور په مقابل کې له کافر سره درېدل او د نورو اسلامي ممالکو ترمنځ د بارډر او ستونزو شتون دا څرګندوي چې د دې بد حالت یو له اصلي لاملونو څخه همدا نشنلیزم دی.

که وګورو زموږ ګران هېواد هم د همدې مرض (نشنلیزم) په اور کې سوزي، تاجک د پښتون څخه ځان لوړ بولي او پښتون د تاجک څخه یوقوم د بل قوم پښې وهي او د له منځه وړلو کوښښ یې کوي، نو ځکه خو له زرګونو کېلومتره څخه لرې اشغالګر راځي وژني مو، خپل سیاست راباندې پرمخ وړي، خپل غلامان یې راباندې مشران ګرځولي دي او د نشنلیزم او تفرقې په واسطه خپلو موخو ته ځان رسوي.

نشنلزم د اسلام له نظره:

الله تعالی په قرانکریم کې فرمایي: إِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاعْبُدُونِ (۹۲)الانبیا

ژباړه: دغه ستاسې امت په حقیقت کې ایکي یو امت دی او زه ستاسې رب یم، نو تاسې زما عبادت وکړئ.

بل ځای کې فرمایي:

يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَىٰ وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا ۚ إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ ۚ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ (۱۳) الحجرات

ژباړه: اې خلکو! موږ تاسې له یوه نارینه او یوې ښځې څخه پیدا کړي یاستئ، بیا مو قومونه او قبیلې وګرځولئ، ترڅو تاسې یو او بل سره و پېژنئ. په حقیقت کې د الله په وړاندې ستاسې څخه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوک دی، چې تر ټولو پرهېزګاره وي او په باوري ډول الله په هر څه پوهېدونکی او باخبره دی.

له دې ایتونو څخه معلومېږي چې الله تعالی موږ یو امت پیدا کړي یو او یو قوم او ملت پر بل بهتروالی نه لري، بلکې په تقوا او ښو عملونوسره، چې پهٔاصل کېد حق معیار هم همدا تقوای او نېک اعمال دي.

که چېرې موږ غواړو متحد پیاوړي او خپلواکه شو، نو باید پهٔ هغه معیار منګولې ولګوو او پرې راټول شو کوم چې زموږ خالق تعالی راته په ګؤته کړي دي، چې هغه اسلام او زموږ عقیده ده، چې باید تر هر څه یې پورته ووبول او لومړیتوب ورکړو.

خو په نشنلیزم کې برعکس د حق معیار ملت، قوم، ژبه، نژاد او هېواد دی او تر دین او هرڅه یې وړاندې بولي، چې په حق او باطل کې ورنه حمایت کېږي.

نشنلستان د خپل قوم د ګټو په خاطر د نورو قومونو لوټول او د استثمارول د فخر سبب ګڼي، د خپل قوم، ژبې او هېواد بد ترین افراد خپل وروڼه ګڼي ولې د بل قوم، ژبې او د بل هېواد یو مسلمان او نیک شخصیت د خپل ورور په حیث منلو ته تیار نه وي .

اوهمدارنګه رسول الله ﷺ په دې اړه فرمایي:

«مَنْ قُتِلَ تَحْتَ رَايَةٍ عِمِّيَّةٍ، يَدْعُو عَصَبِيَّةً، أَوْ يَنْصُرُ عَصَبِيَّةً، فَقِتْلَةٌ جَاهِلِيَّةٌ» مسلم (۴۸۹۲)

ژباړه: څوک چې د تعصب د بیرغ لاندې ووژل شو، چې تعصب ته بلنه کوي او د تعصب په بنسټ باندې مرسته کوي نو مرګ یې د جاهلیت مرګ دی.

او په بل حدیث شریف کې فرمایي:

ژباړه :هغه څوک له مونږ څخه ندی، څوک چې د تعصب پالنې(نشنلزم) لپاره دعؤت کوي، او هغه څوک له مونږ څخه ندی څوک چې د تعصب پالنې (نشنلزم) لپاره جنګ کوي.

کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مبعوث شو هغه لومړی ټول هغه قومونه چې په سلهاوو کلونو یې یو له بل سره دښمنۍ درلودې او په تعصب کې ډوب ول په ژبې، قوم، ملت نه بلکې په اسلام سره را ټول او متحد کړل، تعصب او تفرقه یې لمنځه یوړه او ویې فرمایل، چې عرب پر عجم او تور په سپین بهتري نه لري، بلکې بهتري په تقوا او نېکو اعمالو کې ده.

نو دې نتیجې ته رسېږو چې اسلام د قومونو او ملتونو د یو ځای کېدو یواځنی منشور او لاره ده، برعکس نشنلیزم د قومونو او ملتونو ترمنځ د تفریقې، تعصب او جلاوالي منشا او اساس دی.

نشنلیزم او هېوادنۍ مینه: یوه خبره چې ډېره زیاته مهمه ده او زموږ په خلکو کې یې مختلفې رایې او اختلافونه رامنځته کړي دي، هغه دا چې موږ نشنلیزم او هېواد سره مینه سره ګډوو او یو یې ګڼو، پداسې حال کې چې دا په اصل کې سره یو نهٔ دي، ځکه چې مینه فطرتي وي او د انسان وجود کې په طبیعي ډؤل موجوده وي، مګر نشنلیزم طبیعي نهٔ دی بلکې رامنځته شوی دی او کله چې مینه افراطي حالت ته ورسېږي نو نشنلیزم رامنځته کوي.

**(پاتې په ۷ مخ کې)**



## سیرت اخلاقی رسول گرامی ﷺ

بخش نهم

### تواضع پیامبر گرامی ﷺ (۲)

پیامبر گرامی ﷺ در رأس انسان‌های متواضع و بی‌تکلف قرار داشت؛ ابوهریره رضی الله عنه می‌گوید: پیامبر ﷺ فرمود: «لَوْ دُعِيتُ إِلَى ذِرَاعٍ أَوْ كُرَاعٍ لأَجَبْتُ، وَلَوْ أُهْدِيَ إِلَيَّ ذِرَاعٌ أَوْ كُرَاعٌ لَقَبِلْتُ». «اگر مرا برای صرف ران یا پاچه (گوسفندی) دعوت کنند، خواهم پذیرفت؛ همچنین اگر به من ران یا پاچه‌ای هدیه داده شود، می‌پذیرم». [صحیح بخاری (۲۵۶۸)]

انسان‌های متکبر باید کردار و گفتار پیامبر گرامی ﷺ را آویزه خویش سازند تا همیشه مانعی برای تکبر و برتری طلبی آنان باشد.

ابوهریره رضی الله عنه می‌گوید: رسول الله ج فرمود: «بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي فِي حُلَّةٍ، تُعْجِبُهُ نَفْسُهُ، مُرَجِّلٌ جُمَّتَهُ، إِذْ خَسَفَ اللَّهُ بِهِ، فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ إِلَى يَوْمِ القِيَامَةِ» [متفق علیه]. «روزی، یک مرد که سرش را شانه زده و لباسی مورد پسند پوشیده بود، قدم می‌زد و با تکبر راه می‌رفت؛ ناگهان الله تعالی او را در زمین فرو برد. لذا او تا روز قیامت در زمین فرو خواهد رفت».

یکی از موانع مهم نیل به سعادت دنیوی و اخروی، خودمحوری و غرور و تکبر است. این خصلت راه پذیرش هدایت را مسدود می‌کند، به هر اندازه که روحیه تواضع در انسان پرورش یابد، امکان نیل به هدایت و قرب الهی بیشتر می‌شود. بنابراین، تواضع و فروتنی، یکی از مهم‌ترین و برترین صفات پسندیده مسلمان است.

**تواضع رسول گرامی ﷺ در فتح مکه (ورود متواضعانه، نه فاتحانه):**

هنگامی که الله تعالی مکه مکرمه را برای پیامبرش ﷺ گشود و سپاه قریش پس از بیست و سه سال جنگ و دشمنی در برابر ایشان به زانو درآمدند، درحالی وارد مکه شد که سرش را به نشانه تواضع در برابر الله تعالی و ستایش به درگاه او پایین انداخته بود.

آری، با وجود اینکه لشکر اسلام فاتحانه وارد مکه گردید و پیامبر گرامی ﷺ نیز بر شترش در حالی که عمامه سیاهی بر سر داشت، پیشاپیش آنان در حرکت بود، اما سرش را به خاطر تواضع در پیشگاه پروردگار پایین انداخته و بر زین شتر خم شده بود، زیرا ایشان با مشاهدهٔ این کاروان عظیم و مهیب که در رکاب او در حرکت بودند و منتظر کوچک‌ترین اشاره‌ای از جانب ایشان بودند تا در مکه هیچ جنبنده‌ای را باقی نگذارند، این پیروزی بزرگ او را به یاد گذشته‌ای نزدیک می‌انداخت که از مکه بیرون رانده شده بود و اکنون با این هیبت و نصرت الهی به مکه بازمی‌گشت. چه کرامت و لطف بزرگی از جانب پروردگار شامل حال او شده بود. بنابراین، می‌بایست هر چه بیشتر از الله تشکر نماید و در مقابل او کرنش و سر، خم می‌نمود. (ادامه دارد...)

## بعد از غذا خوردن پیاده‌روی کنیم یا نه؟

اثرات مثبت فعالیت‌های ورزشی بر سلامت انسان‌ها بارها و بارها ثابت شده است. در سال‌های اخیر هم پیاده‌روی اهمیت بیشتری در میان فعالیت‌های ورزشی پیدا کرده و بحث‌های زیادی درباره فواید پیاده‌روی پس از وعده‌های غذایی مطرح شده است.

به نقل از healthline، در ادامه این مطلب به بررسی فواید پیاده‌روی پس از غذا خوردن و مسائل مربوط به آن پرداخته ایم که شامل موارد زیر است:

**فواید پیاده‌روی پس از غذا خوردن**

**1. کمک به بهبود هضم غذا**

یکی از مهم‌ترین مزیت‌های پیاده‌روی پس از غذا خوردن، بهبود روند هضم غذاست. درواقع حرکات بدن، معده و روده‌ها را به فعالیت بیشتر تحریک می‌کنند، باعث حرکت سریع‌تر مواد غذایی درون دستگاه گوارش می‌شوند و درنهایت به هضم بهتر غذاها کمک می‌رسانند. حتی یافته‌های علمی نشان می‌دهند که فعالیت فیزیکی پس از غذا خوردن مانند پیاده‌روی، می‌تواند از ابتلا به بیماری‌هایی مانند زخم معده، سوزش سر دل، سندرم روده تحریک‌پذیر، یبوست و سرطان روده بزرگ جلوگیری کند.

**2. کمک به کنترل قند خون**

از دیگر فواید پیاده‌روی پس از غذا خوردن می‌توان به نقش مثبت این کار در کنترل قند خون اشاره کرد. این مساله خصوصا برای افراد مبتلا به بیماری دیابت نوع 1 و دیابت نوع 2 اهمیت زیادی دارد زیرا فعالیت بدنی آنان پس از غذا خوردن می‌تواند مانع از افزایش قند خون شود و درنتیجه نیاز آنها به انسولین یا انواع داروهای دیابت را کاهش دهد. البته افراد غیردیابتی هم می‌توانند از همین مزیت در راستای تنظیم قند خون خودشان بهره بگیرند.

**3. کمک به کاهش خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی**

اکنون دیگر دهه‌هاست که محققان به رابطه مهم میان فعالیت بدنی و سلامت قلب پی برده‌اند. تحقیقات مختلفی هم نشان داده‌اند که ورزش منظم می‌تواند فشار خون و کلسترول بد خون را کاهش دهد و بنابراین خطر مواجهه با حملات قلبی یا سکته‌های مغزی را کمتر کند. محققان می‌گویند که فعالیت بدنی روزانه و مداوم با کاهش تری‌گلیسرید خون همراه می‌شود که از عوامل خطر ابتلا به بیماری‌های قلبی است. بنابراین، پیاده‌روی پس از صرف وعده‌های غذایی اصلی می‌تواند از این نظر اهمیت زیادی داشته باشد.

**4. کمک به کاهش وزن**

امروزه محققان مطمئن شده‌اند که فعالیت ورزشی، در صورت همراه شدن با رژیم غذایی استاندارد و باکیفیت، نقش مهمی در کاهش وزن ایفا می‌کند. به‌علاوه، برای دستیابی به کاهش وزن مطلوب باید میزان کالری‌های دریافتی را با مشورت متخصصان تغذیه کاهش دهید.

**5. کمک به تنظیم فشار خون**

کمک به تنظیم فشار خون از دیگر فواید پیاده‌روی پس از صرف وعده‌های غذایی است. مطالعات مختلفی نشان داده‌اند که 3 بار پیاده‌روی در طول روز (هر بار به مدت 10 دقیقه) با کاهش فشار خون مرتبط است. مطالعات دیگری هم حاکی از آن هستند که شروع پیاده‌روی منظم در افراد کم‌تحرک و بی‌تحرک می‌تواند فشار خون سیستولیک آنان را 13 درصد کاهش دهد.

**ناراحتی معده؛ عارضه احتمالی پیاده‌روی پس از غذا خوردن**

درحالی که پیاده‌روی پس از غذا خوردن با عارضه‌های جانبی بسیار محدودی همراه است، اما نمی‌توان به این مشکل اشاره نکرد. درواقع، بعضی افراد به‌دلیل پیاده‌روی پس از غذا خوردن دچار ناراحتی معده و علائمی مانند سوء هاضمه، اسهال، حالت تهوع و نفخ می‌شوند. این مشکل زمانی اتفاق می‌افتد که غذاهای خورده شده در معده حرکت کنند و بستر مناسب برای هضم غذاها را دچار اختلال سازند. اگر شما هم دچار این مشکلات شده‌اید، بعد از صرف غذا حتما حدود 15 دقیقه صبر کنید و بعد پیاده‌روی با گام‌های آرام را شروع کنید.

**بهترین زمان برای شروع پیاده‌روی پس از غذا خوردن**

داده‌های فعلی می‌گویند که بهترین زمان برای پیاده‌روی پس از صرف غذا، بلافاصله پس از پایان غذاست. البته همان‌طور که گفته شد، بعضی افراد باید حدود 15 دقیقه برای شروع پیاده‌روی صبر کنند.

**مدت‌زمان پیاده‌روی پس از صرف غذا**

محققان می‌گویند که مدت‌زمان پیاده‌روی پس از صرف غذا باید 10 دقیقه باشد و این مدت‌زمان به‌مرور براساس تحمل‌پذیری بدن افزایش پیدا کند. بنابراین، اگر تازه‌کار هستید، همین بازه زمانی 10 دقیقه‌ای را رعایت کنید.

****************

# چطور با انتقاد دیگران برخورد کنیم؟

مریم حسین پور

شما به انتقاد چه عکس‌العملی نشان می د هید ؟

اولین عکس‌العمل خیلی از ما خشم است. هیچ‌کس از اینکه به او گفته شود کارش را خوب انجام نداده، لذت نمی‌برد و خیلی از ما همه‌ی تلاش‌مان را می‌کنیم تا از هرگونه بازخورد منفی اجتناب کنیم.

با این حال وقتی با چشمان باز با انتقاد برخورد کنید، می‌توانید از آن برای بهتر شدن و رشد فردی و حرفه‌ای خود کمک بگیرید. هیچ کس کامل نیست، و انتقاد ممکن است نکته‌های باارزشی در خود داشته باشد که به شما در شناخت نقاط ضعف‌تان کمک کرده و باعث شود دفعه‌ی بعد عملکرد بهتری داشته باشید.

این مقاله به شما کمک می‌کند انتقاد منصافانه و غیرمنصفانه را از هم تشخیص دهید و یاد بگیرید چطور به آنها واکنش نشان دهید.

### انتقاد منصفانه در مقابل انتقاد غیرمنصفانه

تفاوت‌های مهمی در نوع واکنش شما به انتقادات منصفانه و غیرمنصفانه وجود دارند، بنابراین ابتدا باید بتوانید این دو را از هم تشخیص دهید.

انتقاد منصفانه محترمانه و بدون تهدید منتقل می‌شود و بر روی اقداماتی که باید صورت گیرد تمرکز می کند و قصدش سرزنش کردن و مقصر دانستن فرد مقابل نیست. مثلا، بعد از ارائه‌ی پروپوزال، رئیس‌تان ممکن است به شما بگوید: «اسلایدها به اندازه‌ی کافی مفید نبودند، اگر روی آنها متن کمتری وجود داشت بهتر بود و باعث می‌شد مخاطبان به جای اینکه سعی کنند متن روی اسلایدها را بخوانند، بیشتر به حرف‌های شما دقت کنند. دفعه‌ی بعد بهتر است از عکس‌های بیشتر و متن‌های کمتری استفاده کنی.»

انتقاد غیرمنصفانه ممکن است به روشی بی‌رحمانه انتقال داده شود. در این نوع انتقاد معمولا از جملات کُلی استفاده شده و اغلب در مکانی عمومی و در مقابل افراد دیگر بیان می‌شود. با این حال، چیزی که باعث می‌شود انتقادی را غیرمنصفانه بنامیم، این است که وقتی آن را به صورت منطقی به چالش می‌کشیم، ناپدید می‌شود. مقاله‌ی ما در مورد برخورد با انتقاد غیرمنصفانه را ببینید تا نکات بیشتری درباره‌ی طرز مقابله با آن بیاموزید.

### مدیریت انتقاد

وقتی از ما انتقاد می‌شود، در لاک دفاعی فرو می‌رویم. به هر حال، انتقاد یعنی یک جای کارمان اشتباه بوده است یا سطح عملکردمان در حد انتظار نبوده.

خبر خوب این است که هیچ‌کس کامل نیست و همه‌ی ما در جایی از زندگی‌مان اشتباه می‌کنیم. اگر هیچوقت مرتکب اشتباه نشوید، احتمالا بدین معنی است که هیچوقت تلاش نکردید از منطقه‌ی امن‌تان خارج شوید و ریسک‌پذیر باشید و این راه درستی برای بهبود مهارت‌ها و دستیابی به پیشرفت شغلی نیست.

### در اینجا چند پاسخ سازنده به انتقاد منطقی را تشریح می‌کنیم:

رفتارتان را تغییر دهید: به انتقاد به عنوان فرصتی برای آموختن و بهتر شدن نگاه کنید. فردی که از شما انتقاد می‌کند معمولا دوست دارد در عملکرد شما بهبود حاصل شود. با ذهنی باز و پذیرا با این موقعیت برخورد کنید و از فرد مقابل سپاسگزار باشید که برای کمک به شما وقت گذاشته است. با این کار در مقابل وسوسه‌ی در لاک دفاعی فرو رفتن، مقاومت می‌کنید.

خود را از انتقاد جدا کنید: باید متوجه



باشید که انتقاد در مورد کاری است که انجام داده‌اید یا حرفی که زده‌اید و نه در مورد شخصیت‌تان. سعی کنید احساسات شخصی‌تان را از انتقاد جدا کنید تا بتوانید حقیقت را در حرف طرف مقابل ببینید.

واقعا گوش کنید: حتما با دقت به حرف‌هایی که زده می‌شود گوش دهید. ممکن است فقط سر تکان دهید و وانمود کنید که موافق هستید، در حالی که در ذهن‌تان به این فکر می‌کنید که به محض اینکه حرف طرف مقابل تمام شد، شما چه جوابی به او بدهید. این کار با گوش دادن واقعی خیلی فرق دارد. شما باید با دقت گوش کنید تا دقیقا منظور آنها را متوجه شوید.

فورا پاسخ ندهید: همیشه برای جمع‌بندی افکارتان وقت بگذارید و قبل از اینکه حرفی بزنید آرامش خود را حفظ کنید. همیشه وقتی سریع جواب می‌دهیم، حرف‌هایی می‌زنیم که از گفتن آنها پشیمان خواهیم شد و این باعث می‌شود فردی غیرحرفه‌ای به نظر برسیم. اگر فکر می‌کنید که به بیشتر از چند دقیقه برای آرام شدن نیاز دارید، این را مطرح کنید. از آنها بخواهید که برای پاسخ دادن به شما وقت بدهند و اگر انتقاد را از طریق ایمیل دریافت کرده‌اید، فورا بعد از خواندن آن گزینه‌ی «جواب دادن» را انتخاب نکنید.

انتقاد را به زبان خودتان تکرار کنید: تکرار حرف‌های طرف مقابل از زبان خودتان، باعث می‌شود مطمئن شوید آنها را کاملا فهمیده‌اید. در اینجا از رویکردی غیرتهاجمی استفاده کنید. آرام بمانید و جملاتی را که گفته شده، از زبان خودتان و به روشی آرام و بدون تهدید تکرار کنید. ممکن است با این جملات شروع کنید: «خُب، اگر درست متوجه شده باشم، شما فکر می‌کنید که...»

حقایق را پیدا کنید: اگر فردی که از شما انتقاد می‌کند، منظورش را خیلی واضح و دقیق بیان نمی‌کند، از او سؤال بپرسید. باید حتما متوجه شوید که مشکل واقعی در کجاست. اگر رئیس‌تان می‌گوید: «من از آخرین گزارشت راضی نبودم.» حتما از او درباره‌ی جزئیات بیشتر و اینکه علت راضی نبودنش دقیقا چه چیزی بوده سؤال کنید.

به اشتباه خود اعتراف کنید: افرادی که به اشتباهات‌شان اعتراف می‌کنند مورد ستایش و احترام هستند. وقتی مسئولیت چیزی را که آن طور که شما انتظار داشتید پیش نرفته برعهده می‌گیرید، حرفه‌ای بودن و بالغ بودن خود را ثابت می‌کنید. اگر اشتباهی از شما سر زده، اعتراف کرده و عذرخواهی کنید. موافقت کردن با فردی که از شما انتقاد می‌کند فضایی سازنده و مملو از احترام دوطرفه به وجود می‌آورد.

از تجارب خود درس بگیرید: اگر از انتقاد منصفانه درس بگیریم، در بهبود عملکردمان کمک زیادی می‌کند. پس، کمی وقت بگذارید و به اتفاقی که افتاده و چیزی که فرد منتقد گفته، فکر کنید. برای اصلاح موقعیت برنامه‌ریزی کنید و مراقب باشید تا دیگر همان اشتباه را تکرار نکنید.

سپاس‌گزار باشید: بعد از اینکه تجربه‌ای جدید آموختید، از فردی که وقت گذاشته و از شما انتقاد کرده تشکر کنید. همانطور که خیلی از افراد از دریافت انتقاد ناراحت و معذب می‌شوند، انتقاد کردن هم برای خیلی از افراد ناراحت کننده است. حتما به آنها توضیح دهید که انتقادشان خیلی سازنده بوده است و شما از آن نکته‌های زیادی آموخته‌اید.

***************

# PILLARS OF IMAN (5):
# BELIEF IN PREDESTINATION

(NAJM UK WEEKLY REMINDERS)

The word 'Qadr' linguistically means a **specified measure or amount of something** whether it is in terms of quality and quantity. So here Al-Qadr is an Arabic word meaning Allah's predestination of measurements and sustenance **of everything and everyone**, according to His knowledge and wisdom. Belief in al-Qadr comprises of four aspects or levels:

1) Belief in Allah's **knowledge of everything** from the beginning of time until the end.

2) Belief in Allah's **recording of everything** in the Preserved Tablet (اللـوح المحفـوظ)

3) Belief that whatever happens only happens **by the will of Allah** and if He does not will something, it can never come into existence.

4) Belief in Allah's **creating of all**, bringing of everything into existence and making everything be.

## FIRST ASPECT: KNOWLEDGE

Belief in al-Qadr entails to believe that **Allah's knowledge is all encompassing**. It is to believe that Allah knows all things: be it general or specific, be it knowledge of the past, present or future or be it even knowledge of the hypothetical (something that didn't happen, had it happened, how it would've happened).

وَإِنَّ رَبَّكَ لَيَعْلَمُ مَا تُكِنُّ صُدُورُهُمْ وَمَا يُعْلِنُونَ * وَمَا مِنْ غَائِبَةٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ إِلَّا فِي كِتَابٍ مُبِينٍ

*He knows **everything** their hearts conceal and everything they reveal: there is **nothing hidden** in the heavens or on earth that is not in a clear Record. (Surah An-Naml, verse 74-75)*

Allah's knowledge also varies from the knowledge of His creation in that it's not **preceded by ignorance nor is it followed by forgetfulness.**

قَالَ عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّي فِي كِتَابٍ ۖ لَا يَضِلُّ رَبِّي وَلَا يَنْسَى

*Moses said, 'My Lord alone has knowledge of them, all in a record; **my Lord does not err or forget. (**Surah Taha, verse 52)*

## SECOND ASPECT: WRITING

The second concept is that Allah, the Most High, has written all matters that would ever occur in a Preserved Tablet (اللـوح المحفـوظ).

In the Preserved Tablet everything is determined and accounted for and is not subject to change. Scholars agree that the other types of records such as the Life-time Record (Written while the foetus is in the mother's womb), the Annual Record (which is written on Laylatul Qadr) and the Daily Record, may be affected by certain acts such aa Duā and Righteousness.

لَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ ، وَلَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ ، وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِخَطِيئَةٍ يَعْمَلُهَا

*"Nothing increases one's life-span except good deeds, and nothing repels Divine Decree except du'a. And very, a person may be deprived for sustenance due to a sin that he does!" [Narrated by Ibn Majah]*

Note: Changes in destiny caused by dua and righteousness have already been accounted for in The Preserved Tablet. This does not interfere with one's free choice/will but rather is a testament to the all-encompassing nature of Allah's nature.

Allah S.W.T will NOT use this (the preserved Tablet) against us on the Day of Judgment but ANOTHER writing, the account of our deeds, which will exactly match the Preserved Tablet as it had taken into account of everything!

و وجـدوا مـا عملـوا حاضـرا ولا يظلـم ربـك أحـدا

*They will find whatever they did present before them, and your Lord will not wrong anyone. (Surah al-Kahf, verse 49)*

## THIRD ASPECT: ALLAH'S WILL

If anything were to happen against the Will of Allah, it would imply weakness. Glorified be Allah from attributing such a thing to him! Belief in His Will means that nothing can occur without His permission. Allah says in Surah Al Qasas:

وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ ۗ

And your Lord creates whatsoever He wills and chooses.

We also have a will granted to us by Allah S.W.T which we use to indulge in or avoid actions of our choice and hence we will be held accountable for that which we used to do. These actions which we will be accountable for are those which we did willingly, and not unwillingly. Our will is a product of Allah's will and is secondary to His will.

## FOURTH ASPECT: CREATION

The 4th aspect of Qadr is to believe that Allah created all of creation, all attributes they possess and even their actions. He creates the actions by making their existence possible but the human being earns them.

Aside: Actions have 4 components: Will, Strength, Time, and Place, All of which were created by Allah. We use these 4 components when performing an action.

******************

# Will Allaah Forgive Me?

You might say: "I want to repent, but my sins are many indeed. There is no kind of immoral act, no kind of sin, imaginable or otherwise, that I have not committed. It is so bad that I do not know if Allaah can forgive me for the things that I have done over the years."

In response, I would tell you that this is not a unique problem; it is one that is shared by many of those who wish to repent. Let me give you the example of a young man who asked this question once. He began his career of sin at a very early age, and by the time he was only seventeen, he already had a long record of committing every kind of immoral act, major and minor, with all kinds of people, old and young alike. He had even abused a little girl. Added to this was a long list of thefts. Then he said: "I have repented to Allaah. I now pray tahajjud some nights, and I fast every Monday and Thursday, and I read Qur'aan after Fajr prayers. Will my repentance be of any avail?"

The guiding principle for us Muslims is to refer to the Qur'aan and Sunnah when we look for rulings, solutions and remedies. When we refer this matter to the Qur'aan, we find that Allaah says (interpretation of the meaning): "Say: 'O My slaves who have transgressed against themselves (by committing evil deeds and sins)! Despair not of the Mercy of Allaah, verily Allaah forgives all sins. Truly, He is Oft-Forgiving, Most Merciful. And turn in repentance and in obedience with true faith to your Lord and submit to Him…" [al-Zumar 39:53-54].

This is the answer to this particular problem. The matter is quite clear and needs no further explanation.

The feeling that one's sins are too great to be forgiven by Allaah stems from a number of factors:

The absence of certain faith on the part of the slave in the vastness of Allaah's mercy

A lack of faith in the ability of Allaah to forgive all sins

Weakness in one aspect of the heart's action, namely hope

Failure to understand the effect of repentance in wiping out sins

We will answer all these points here:

It is sufficient to quote the words of Allaah (interpretation of the meaning): "… and My Mercy embraces all things…" [al-A'raaf 7:156]

It is sufficient to quote the saheeh hadeeth qudsi: "Allaah says: "Whoever knows that I am able to forgive all sins, I shall forgive him, and I shall not mind, so long as he does not associate anything with Me.'" (Reported by al-Tabaraani in al-Kabeer, and by al-Haakim; Saheeh al-Jaami', 4330). This refers to when the slave meets his Lord in the Hereafter.

This may be remedied by referring to the hadeeth qudsi: " 'O son of Adam, so long as you call upon Me and put your hope in Me, I will forgive you for what you have done, and I shall not mind. O son of Adam, if your sins were to reach the clouds of the sky, and you were to ask me for forgiveness, I will forgive you and I shall not mind. O son of Adam, if you were to come to Me with sins nearly the size of the earth, and you were to meet Me not associating anything with Me, then I would bring you forgiveness nearly the size of (the earth).'" (Reported by al-Tirmidhi; Saheeh al-Jaami', 4338).

It is sufficient to quote the hadeeth of the Prophet (may Peace Be Upon Him) : "The one who repents from his sin is like the one who did not sin in the first place." (Reported by Ibn Maajah; Saheeh al-Jaami', 3008).

---

## ملتپالنه (نشنلیزم) ښه او که بده؟ (پاتې برخه)

او بله مهمه نقطه دا ده چې نشنلیزم د خلکو د اذهانو د مغشوشولو، د ملتونو د تجزیه کولو او د اهدافو د لاسته راوړلو لپاره رامنځته شوی په همدې ډول ښایسته نومؤل شوی معرفي شوی او پروموټ شوی دی.

ډېری وخت مخفي سازمانونه او غربیان د خپلو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره ځیني کلیمې منځته راوړي، قوانین او نظریې معرفي کوي لکه د بیان ازادي، د ښځو حقوق، ملتپالنه، ډیموکراسي او داسې نور. دوی دا نظریې او قوانین د خپلو هېوادونو لپاره په یؤ ډول کاروي خو نورو هېوادونو په ځانګړي ډؤل مشرق ته یې د وېرانۍ او تفریقې اچونې لپاره انتقالوي، د یو قالب په حیث یې معرفي کوي تر څو خپلو موخو ته په اسانه ډول او کم وخت کې د همدې قالبونو کارونې په وسیله ورسېږي.

د خپل هېواد، ژبې او قوم سره مینه لرل او د هغو مسلم حق غوښتلو لپاره غړ پورته کول بد کار نهٔ دی، بلکې سنت او ښهٔ کار دی. خو چې د اسلام په چوکاټ کې دننه وي یعنې غرور او تعصب وونشي او نورو ملتونو، قومونو او ژبو ته په کمه سترګه وو نهٔ کتل شي، عدالت تامین شي او ظلم او تېری وونشي.

کله چې رسول اللهﷺ د هجرت په مهال د مکې له ښاره ووت بېرته یې له مشرکینو ډکې مکې ته وکتل، په داسې حال کې چې سترګې مبارکې یې د مکې د فراق لامله له اوښکو ډکې وې هغې ته یې په خطاب کې وویل:

ځومره خوږه او ښایسته او څومره راته ګرانه یې، که زما قوم زه مجبور کړی نه وی زه به له تا پرته بل ځای نه ووم اوسیدلی. ) رواه الترمذي)

په یوه بل روایت کې راغلي چې د رسول الله ﷺ یو خپلوان له مکې راغلی وو، رسول الله ﷺ د مکې د حالاتو پوښتنه ور څخه وکړه، هغه د مکې د ښار، غرونو او دښتو کیسې ورته پیل کړې. رسول الله ﷺ یو څه د هغه کیسې واوریدلې وروسته یې ورته وفرمایل: نور بس کړه او په تېپي زړونو مالګي مه دوړوه.

همدارنګه رسول الله ﷺ د قریشي قوم څخه وو او خپل قوم سره یې تر مرګه پورې مینه درلوده.

نو لهٔ دې نه معلومېږي چې له خپل هېواد، سیمې، قوم او ژبې سره مینه درلودل یو فطري او جایز عمل دی، خو لکه څرنګه مو چې مخکې وویل باید لهٔ عقیدې څخه لومړیتوب ورنه کول شي او ددین د لارښوونو په رڼا کې ورسره مینه ووشي.

که چېرې داسې وونه شي نو بیا دا مینه په نشنلیزم بدلېږي او همداسې افراطي بڼه غوره کوي او تعصب رامنځته کېږي چې بیا دا مینه هلاکوونکې او حرامه ګرځي، د تجزیې او ځانځاني سبب ګرځي.

# God Works In Mysterious Ways

**Rita, Canada**

I suppose we have all heard stories of converts before. They are, praise be to God, becoming very common, and growing in their number every day. But still, I can never forget how it feels to know that another human being whom you know personally has chosen to accept Islam.

I do not wish to embarrass my friend, so I will refer to her as Rita, which is not her real name.

I first met Rita in Abu Dhabi of the United Arab Emirates about three or four years ago. At that time, she was the girlfriend of a friend of mine. She was not exactly a paragon of virtue. Her activities with other men were less then respectable to put it mildly, she drank in excessive amounts (even by 'Western' standards). In short, her life was worse than that of a typical 'free' woman in the West. Her mother was also prone to heavy bouts of drinking and her father was no longer alive. Her mother was a nominal Christian Canadian.




However, as the saying goes, God works in mysterious ways. Even during this time, she was interested in religion, and had spent a bit of time studying Islam. Needless to say, it did not exactly play a significant part in her life; but nevertheless, it was in the back of her mind. And that is probably all she needed.

Of course, I did not approve of her ways. However, I did not agree that I should alienate myself from my friend or her because of my disapproval. Today, I am glad that I stuck by that view.

During the course of the next two or three years, I spoke with Rita on quite a number of occasions. Our talks involved all scopes of philosophy, and almost always moved onto religion. I say this from her point of view, because as far as I am concerned, philosophy, law and religion are all one.

Time passed, and eventually, she left Abu Dhabi, as did I. By the time I had left, she had already stopped her relationships with men, stopped drinking completely and started to dress less like a 'tart' and more like a woman of virtue. Still, she was not a Muslim.

She did not stop her investigation into Islam whilst away from Abu Dhabi; indeed, she became much more in tune with Islam. She continually thirsted for knowledge and whenever I heard from her, she was sending me more material of things she had investigated regarding Islam.

This past winter, I was in Abu Dhabi again. As was she. I spoke to her very sparingly this time; the first time had been to greet her and I noticed that she had now developed a strong distaste of the alcoholic habits of her mother. She had also started wearing only long dresses and full length jumpers. I remember commenting on that occasion that I did not believe that you could judge a woman by her hijab since many women in the East wear it only as a symbol of status and that a woman should only wear it if she is genuine in her desire to.

Before I left, we met again and on that occasion, I attempted to teach her how to pray. She wore the full scarf and complied with even the strictest Muslim jurists with regard to the dress code. I told her, "What is the point of all this? Admit it to yourself who you are."

I then returned to Britain, thinking that I had left her still wandering. I was mistaken. A few days ago, I received a letter from her, postmarked from Canada. She had decided to leave her mother's home and live in Canada, her country. She had taken the Shahada. She was now dressed in full hijab, according to tradition, and was praying.

This from a girl who came from a drinking house, was a heavy drinker herself and not a woman of particular chastity.

She now goes in public wearing an item of clothing that provokes a hostile environment (one woman actually spat at her in the street) and talks with people at any chance about Islam. Although I do not believe that the donning of a cloth is virtue in itself, her determination to show people, "I am a Muslim woman and I am proud of it" is something that I respect her for.

We seem to be pretty judgmental nowadays of those who are not Muslim. And in doing so, we alienate ourselves from those who may be potential Muslims. In doing that, we may stop ourselves from spreading Islam in the only real way possible; through example and through peaceful ways.

I take no credit in regard to Rita's reversion to Islam. It is to her credit alone and through God's will. If I was a small guide, it was insignificant compared to her own determination and will to seek truth.

She found it. And God willing, more people will follow in her path.

Hisham Zoubeir

**********************

**********************************

## فعالیتهـا و خدمات ما درین ماه




media@hayatfoundation.org.uk
hayatfoundationuk
+44 7588 811824 - +44 7508 848893
www.hayatfoundation.org.uk
تماس با ما

